## مطبوعاتي اعلاميه

# د نړیوال تروریزم رهبر غواړي د افغانستان د خلکو په بمبارولو سوله راولي

فوربس امریکایي مجلې یو نوی راپور خپور کړی، چې ښیي امریکایي او ناټو ځواکونو په افغانستان کې د ۲۰۱۸ له جنورۍ تر سپټمبره شاوخوا ۵ زره او ۲۱۳ هوایي بریدونه کړي. په داسې حال کې چې د دغو بمباریو د ویجاړۍ، وژل شوو او ټپیانو د شمېر جزیات مشخص شوي نه دي؛ خو دا په تېرو ۱۷ کلونو کې د بمبارونو خورا لوړه کچه ده، چې ۲۰۱۸ په افغانستان کې د یوه خورا خونړي کال لقب اخیستی دی.

واقعي شواهد ښیي چې د دغو بریدونو ډېری قربانیان ښځې او ماشومان دي او حتی په ځینو وختونو کې افغان امنیتي ځواکونه هم د دغو بمباریو موخه ګرځېدلي دي. خو امریکا دا بمبارونه پر طالبانو د فشار په توګه توجیه کوي، ترڅو امریکایي سولې ته لار هواره کړي. هغه سوله چې د افغانستان د مسلمانو خلکو د وینې په بیه په سیمه کې د امریکا سترې اډې وساتي، خو د جګړې د ختمولو معنی ونه لري. یو شمېر طالب رهبران له ټولو هغو ارزښتونو څخه رابېل کړي، چې د هغو لپاره یې تر ۱۷ کلونو ډېره جګړه کړې او قربانۍ یې ورکړې دي، چې په پایله کې د هغوی پاتې سرتېري له نورو جنګي ډلو لکه داعش سره یو ځای کړي، ترڅو په سیمه کې د امریکا ستراتیژیکې موخې خوندي شي.

په واقعیت کې په افغانستان کې د امریکا او ناټو نظامي فعالیتونه په اوه سري ښامار بدل شوي، چې تر بل هر ترورېزم زیاته وینه تویونه او جنایت زېږوي. کوم عمل د ملکي خلکو، ښځو او ماشومانو تر بمبارولو ډېر ترورېستي دی؟ هوايي بمبارونه زیات ځایونه ویجاړوي، ستر ځاني تلفات رامنځته کوي، ماشومان یتیموي، ښځې کونډې کوي، پلرونه او میندې د ویر پر ټغر کینوي، لکه څنګه چې د افغانستان ډېری ولایتونه هره ورځ د هغو ترورېستانو د الوتکو د الوتنو شاهد دي، چې د مرګ نغاره غږوي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**